بسم الله الرحمن الرحيم

**د فرانسې دولت لخوا مسلمانو ښځو ته د لامبو د ځانګړو جامو (بورکيني) اجازه ورکول، د دغه دولت اسلام ضد اجنډا نه پټوي.**

د فرانسې اداري محکمې د ۲۰۲۲ ز کال د مې پر ۲۶مه د ګرينوبل ايالت په الپين ښار کې وويل؛ دا اداره هغه قانون لغوه کوي چې پر بنسټ يې په عامه ځايونو لکه ساحلونو کې د مسلمانو مېرمنو د لامبو پر ځانګړو جامو بنديز لګېدلی.

دا اقدام د هغو فعالانو لخوا وستايل شو، چې په ټولنه کې مختلفو افکارو او اديانو ته د ازادۍ ورکولو ملاتړي دي او دا يې يوه بريا وبلله.

د NDTV تلويزيوني شبکې پر ويبپاڼه په خپره شوې مقاله کې راغلي:

«د فرانسې د کورنيو چارو وزير جيرالډ در مانين پر خپل ټوېټر د محکمې د پرېکړې هرکلی کړی او دا يې يو ښه خبر بللی.»

ورځپاڼه زياتوي: «دا حکم تر اوږدې مودې شخړو وروسته يو پرمختګ دی خو د فرانسې د سيکولر ارزښتونو ملاتړي يې د هغو کسان پر وړاندې راپورته کړي چې د بورکيني پر اغوستلو بنديز تبعيض بولي.»

مسلمانې ښځې بايد په فرانسه کې نوي بدلون ته د پرمختګ په سترګه ونه ګوري، ځکه همدا اوس پر حجاب بنديز شته او په وروستيو کې مو وليدل چې يوه فرانسوي په عامه ځای کې پر دوو مسلمانو مېرمنو بريد وکړ، چې دا کار له اسلام سره د دوی کرکه ښکاره کوي.

مسلمانې ښځې بايد د دغې محکمې له لوري دوی ته د بورکيني اغوستلو د اجازې په ورکړه و نه غوليږي، ځکه هغه حقونه چې الله سبحانه وتعالی دوی ته ورکړي، له دې سره د پرتلې وړ نه دي. دا هم بايد هېر نه کړو چې ډېری مسلمانې ښځې د حجاب د بنديز له امله زده کړو، روغتيايي خدمتونو او اقتصادي حقونو ته محدود لاسرسی لري.

هغه ښځې چې په وېره کې ژوند کوي او هره ورځ له ناوړه چلند او تبعيض سره مخ دي، هېڅکله دا ډول امتيازونه بريا نه بولي. د اروپا ټش په نامه لېبرال سيکولر خيالي نړۍ کې مسلمانې ښځې هره ورځ له بېلابېلو ستونزو سره مخ کيږي او هغوی ته د لږکيو په سترګه کتل کيږي.

دا ډول امتيازونه له هغه عزت او درناوي سره هېڅ د پرتلې وړ نه دي، چې په خلافت دولت کې مسلمانو ښځو ته ورکول کيږي. په خلافت کې نه له دوی سره ناوړه چلند کيږي او نه په عامه ځايونو کې پرې بريد کيږي. په اسلامي شريعت کې د ښځو د عزت ساتلو لپاره قوانين وضع شوي او د سرغړوونکو لپاره يې مجازات ټاکل شوي دي.

{وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُوا الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُوْلِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ * إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ}[نور:۲۲-۲۳]

***ژباړه:*** *او په تاسو کې شتمن او د پراخۍ خاوندان دې قسم نه کوي چې دوی به نږدې خپلوانو، مسکینانو او د الله په لار کې مهاجرینو ته نفقه نه ورکوي، دوی باید عفوه او تېرېدنه وکړي، ایا تاسو نه خوښوئ چې الله درته مغفرت وکړي او الله بښخونکی او مهربان دی. بېشکه، هغه کسان چې پر پاکلمنو، ناخبره مومنو ښځو باندې تور پورې کوي، پر دوی په دنیا او اخرت کې لعنت دی او د دوی لپاره ستر عذاب دی.*

اسلامي ارزښتونو ته روان سپکاوی د دې ښکارندوی دی، چې سیکولران د اسلام له څواک څخه ښه خبر دي، دوی پوهېږي که اسلام نړیوال نظم په لاس کې واخلي، نو خلک به د انسانانو په لاس له جوړو شویو قوانیونو څخه خلاص کړي، چې له امله یې په ځمکه کې سخت ظلم روان دی. اسلام په خپل عظمت سره ټول باطل قدرتونه او چارواکي له منځه وړي او د انسانانو تر منځ عدالت تامینوي؛ همدا لامل دی چې د نړۍ مشران یې پر وړاندې مبارزه کوي. اوس د دې وخت رارسېدلی چې مسلمانان د اسلام د حاکمیت لپاره نه ستړي کېدونکې هلې ځلې وکړي، ترڅو یو ځل بیا  ښځو ته په ټولنه کې درناوی وشي او رینښتنی مقام یې ورکړل شي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکنه: عمرانا محمد**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړه: محمد هارون رؤفي**

**۱۴۴۳هـ.ق، د شوال ۲۸مه**

**۲۰۲۲م، د می ۲۸مه**